مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی ۲۰۲۶/۱۰/۰۲

# هغه کتاب، چي په یوساعت کي مي ولوست

مرحوم علامه رشاد بابا یوه ورځ زما د یوې پوښتني په جواب کي راته وويل: « ژبه هغه مهال پرمختګ کولای سي، چي دربار ته ننوځي او یاهم د نړی له بیلا بیلو ژبو معتبر اثار ورته راوژباړل سي .»

له هغه وخت راهیسي تراوسه، چي زه کوم ژباړل سوی کتاب، رساله او یاهم مقاله ولولم، نو د علامه بابا هغه وینا مي راپه یاد سي او په دې ډېرخوشحاله سم، چي شکر دی زموږ په ټولنه کي دغسي قلم په لاس کسان سته، چي د خپلي مورنی ژبي (پښتو )د بداینې لپاره د خپلو اسلافو پخې خبرې عملي کوي.

که غور وسي، ژباړه اسانه هنر نه دی ځکه داهنر ځان ته ځانګړي لاري او اصول لري، چي خامخا په نظر کي نیول غواړي او پام ورته نه کول یې د ژباړې اصلیت ته تاوان رسوی.

ژباړه ترهرڅه اول لوی زغم غواړي، ځکه ژباړن اکثره وخت دیوپرګراف، یوې جملې او ان یو لغت لپاره ډېره هڅه کوي، چي په خپله ژبه کي داسي روان مترادف لغت، جمله او پرګراف پیدا او واوډي، چي په ویلو، لیکلو او اوریدولو کي نه یوازي اسان ښلکي د دوهمي ژبي  اکثرو لهجه ویونکي ورسره بلد وي اود مطالعي پرمهال داسي فکر ونه کړي، چي ګواکي یوه ترجمه سوی جمله، لغت او متن لولي.

دازغم په ډېر تمرین او یوه جمله په څو، څو واري لیکلو، رنګولو او بیا بیا لیکلو ته اړتیا لري، ترڅو د خپلي ژبي پر قواعدو برابر متن په دقیق ډول داسي ترجمه کړي، چي لوستونکي یې د مطالعي پرمهال په لوستلو ستړي نه سي.

که چیري د (عبدالرحیم هاتف ژوند) په نامه ژباړل سوی کتاب په غور سره مطالعه سي، نو معلومه به سي، چي ددغه کتاب ترجمان ښاغلي عبدالظاهرجان څرګ له ډېر هنري زغم څخه کاراخیستی دی.

هغه مهال، چي موږ د هیواد له غیري لیري په پردي ولات کي د کډوالی ترخي شپې سبا کولي، نو په هغه وخت کي د هیواد د پیژندل سوي ژباړن او لیکوال محمد زبیرشفیقي د ترجمه کړو ناولونو بازار خورا تود ؤ.

(محمد بن قاسم، د تروږمی مسافر، د یوغازي داستان) او ځیني نور پښتو ته ژباړل سوي ناولونه وو، چي باور وکړئ زموږ اکثره ادبي ملګري به یې لوستلو ته څو ورځي انتظار کاوه او ډېره تلوسه  یې وه، چي ژر ددغو ناولونو د لوستلو نوبت ور ورسیږي.

ماته، چي به دیادونو ناولونو له لړی څخه هر یو په لاس راغلی، نو د ماخستن ډوډی به خامخا د لاس ته راغلي ناول پر مطالعه راڅخه ځنډېدل یا هم قضاء کېدله.

همداسبب دی، چي تر ټل کاله زیات وخت تیرېدو وروسته مي هم د هغې لړی د څو ناولونو پر نومونو سربیره د هغوی موضوعګاني او ځیني په زړه پوري صحني لکه د یو نامي فلم ډېیلاګونه په یاد دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

دغو ژباړل سويو ناولونو ځکه د ادبي ملګرو ترمنځ دومره شهرت پيداکړ، چي له يوې خوا يي د ځينو موضوعګاني زموږ د هيواد له روانو حالاتو سره برابري وې او بله غټه ښېګنه يې داوه، چي ښاغلي زبيرشفيقي په خپل خداى ورکړى استعداد داسي ژباړلي وو، چي هيڅ د ژباړي ګومان وربانديِ نه کيدى.

په دې وروستيو کي، چي ما د ( عبدالرحيم هاتف ژوندليک) ژباړل سوى کتاب مطالعه شروع کړه، نو سمدستي د نسيم حجازي د ليکل سويو ناولونو هغه پښتو ترجمه راپه زړه سوه، ځکه دغه کتاب هم زموږ اوستاسو کندهاري ليکوال او ژباړن حاجي ظاهرجان ځرک په داسي روانه پښتو ژباړلى دى، چي هيڅوک نه وايي، دادي ترجمه سوى وي.

زه، چي له تيرو شلو کالو راهيسي د عملي ژورناليزم ډګر ته راغلى يم، نه مي په ياديږي، چي يو کتاب مي دي ټول په يوه ورځ لوستلى وي، خو له نېکمرغه (د عبدالرحيم هاتف ژوند ليک) کتاب مي په ډېره تلوسه په يوساعت کي ولوست او په اخرکي مي له ځان سره وويل:

«کاشکي دې کتاب يوڅو نوري پاڼي هم درلوداى!»

کتاب محاورې ته د نژدې ژباړي ترڅنګ بله دا ځانګړتيا هم لري، چي هره موضوع ښه واري په لوستلو ارزي.

د ژباړي په اصولو پوه کسان د خپلي ژباړي لپاره داسي اثار غوره کوي، چي ددوى په ژباړولو و ارزي، چي دغه کار حاجي ظاهرجان ځرک په ښورا دقت سره کړى دى.

دغه ژباړل سوى کتاب (١٢٧) مخونه لري، چي د کتاب پر پښتى يې د مرحوم عبدالرحيم هاتف عکس اود کتاب پر شلورمه پښتى د ژباړن لنډه پيژندګلوي د هغوى له عکس سره يوځاى چاپ سوې ده.

د کتاب د کمپوز چاري د کندهار مجلي مسؤل مدير او تکړه ليکوال محمد نبي سلطاني کړي دي.

کتاب پر تک سپين کاغذ سرکال د عرفان خيرندويه ټولني لخوا په کندهارکي د ( ٥٠٠) ټوکو په تيراژ خپورسوى دى.

ژباړن د کتاب اهداء په دې الفاظو کړي ده:

»د پښتو ژبي د تکړه ليکوال،شنونکي،ژباړونکي او تاريخ ليکونکي استاد محمد معصوم هوتک په نوم، چي پښتو ته يې په لسونو تحقيقي اثار وړاندي کړي دي« .

ورپسي د کتاب په نوملړ کي لوستونکي دغه مطالب مطالعه کولاى سي:

(د هاتف صاحب بيوګرافي، د ژباړن خبري، مرحوم عبدالرحيم هاتف، زده کړي، دندي، چاپ او ناچاپ اثار، د مکتب خاطرې، ترټاکنو وروسته يوه خاطره، د يمن دسفرليدني او خاطرات.)

پر کتاب درond استاد محمد معصوم هوتک لنډه ليکنه کړي.

استاد هوتک د ښاغلي ځرک دغه ژباړه ستايلي او ژمنه يې کړې، چي د عبدالرحيم هاتف د بيوګرافى په اړه خپله هم جلا يوڅه ليکي.

له دې وروسته د کتاب ژباړن په خپلو خبروکي داسي ليکلي دي:

«دا بيوګرافي ما ځکه وژباړله ، چي د افغانستان د معاصر تاريخ د وروستى برخي ځيني پټ او مهم حقايق پکښي روښانه سوي دي، خصوصا د ډاکترنجيب الله د واکمنى د وروستيو کلنو پيښي، د ډاکترنجيب الله پر ضد د شمالي ټلوالي اتحاد اود پرچميانو ګډسنګراو خيانتونه پکښي رسوا سوي دي ... »


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

ددغه کتاب لوستل داخبره راپه ګوته کوي، چي هغه ځوانان، چي پر انګليسي سربېره له نورو ژبو سره بلدتيا لري ورته په کارده، چي د خپل ذوق سره سم د استادانو په مشوره داسي ګټوري مقالې، رسالې او کتابونه پښتو ته راوژباړي، چي هغه زموږ د ټولني درد دوا کړي، خو پام په کار دی، چي ژباړه ټکی په ټکی نه وي، بلکي په پوره امانتداری د لومړۍ ژبي مغتنم اثار د خپلي ژبي له قواعدو سره سم خپلو لوستونکو ته وړاندي سي، ترڅو په دې ډول مو د خپلي ژبي د بډايني په لار کي که نور نه وي يو قدم خو په راستۍ اخيستی وي.

د همداسي معياري ژباړو د ډېريدو په هيله!

۲۰۲۰ جنوري ۲مه

کندهار ښار علامه حبيبي واټ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ